# (E) برخه:ښاري ځنګلداري

## دوهم لوست يا درس: د ښاري ځنګلدارۍ تعريف

# اصطلاح ګاني

- اربوری کلچر
- اربوریست
- تصدیق شوي اربوریستونه
- د سرک د غاړې د ونې لوایح(احکام یا حمکونه)
- د ونې لوایح (احکام)
- د ونې د حفاظت یا ساتنې لوایح(احکام)
- ښاري ځنګلداري
- د منظرې یا د لیدنې د ځای لوایح(احکام)

# ښاري ځنګلداري څه شی دی؟

- ښاري ځنګلداري د ځنګلاتو له یوه ځانګړی او مخصوصې برخې څخه عبارت ده.
  - له نفوس یا وګړو څخه په ډکو ساحو کې موقیعت لري.
  - د ونو په تنظیم کې مشکلات یا ستونزي منځته راوړي چې په غالبه توګه په سنتي ځنګلاتو کې نه لیدل کیږي.
  - د هوا ککړتیا، د نموي فضا او پیچل شوو خاوري محدودیت هغه عوامل دي چې د ونو تنظیم یا مدیریت له مشکل یا ستونزې سره مخامخ کوي.

# ښاري ځنګلداري څه شی دی؟



- ښاري ځنګلداري د خلکو جدې پاملرنې ته اړتيا او ضرورت لري.
- د ونو کښت او ځارنه کول له اربوري کلچر څخه عبارت ده.
- او هغه متخصيصين يا پوهان چي د ونو له کښت څخه نظارت يا ليدنه کوي د اربوريستانو په نوم سره ياديږي..

# ښاري ځنګلداري څه شی دی؟

- تصديق شوي اربوريستان د شرايط په لرلو سره په ځنګل کي د کار او ساتني لپاره د مطالعاتو او ازمايښتونو له لاري تايد کيږي. هغوي معمولاً د متخصيصينو په ډول سره په لاندې ساحو کي د پاملرنې وړ دي:
  - د ونې تغذيه کول او حاصلخيزي(سره ورکول).
  - د ونې انتخاب يا ټاکنه او تشخيص کول،
  - د ونې تاسيس او منځته راوړل،
  - د ونې مصونيت او خښتتل
  - ، د خطرونو يا ننګونو ارزيابي يا ازمايښت کول
  - ، د ونې بيولوژي
  - ، د ښاخونو پري کول،
  - د ناروغيو تشخيص او درملنه کول،
  - د اوبو او خاوري په منځ کي روابط يا اړيکي،
  - د ځنګله ايکولوژي، ونې ته شکل ورکول
  - او د هغي حفاظت يا ساتنه کول او د ونې د ښايستوالى پوري مربوط يا تړلي مسايل

# د ښاري ځنګلدارۍ او ښاري ونو فوايد يا ګټې کومې دي؟

- ښاري سالم يا روغ ځنګلات د ژوندانه کيفيت ته لوړوالی يا ارتقا ورکوي.
  - چې دا موضوع د تنفس د عملي سره په رابطي سره د تنفس له عمل سره چې هره ورځ په حدود د ۲۳۰۰ ځلې صورت نيسي ډير مهم او اړين دي.
- ونې د اوکسيجن په توليد کې فعاله برخه اخلي .
  - د نيم هکتار ځمکې ونې هره ورځ د ۲۵ ميليونه نفرو يا اشخاصو لپاره په کافي اندازې سره اکسيجن توليدوي يا توليدولی شي.

# د ښاري ځنګلدارۍ او ښاري ونو فواید یا ګټې کومې دي؟



- ونې کاربن ډای اوکساید جذبوي.
- د نیم هکتار ځمکې ونې د کاربن ډای اوکساید کافي اندازه د یو کال په اوږدو کې جذبولی شي
- او کولی شي چې د کاربن ډای اوکساید یوه اندازه له چلیدونکی موټر څخه په فاصله د ٤١٨٤٠ کیلو مترو سره چې تولیدیږي، جبران کړي.

# د ښاري ځنګلدارۍ او ښاري ونو فوايد يا ګټې کومې دي؟

- ونې د يوه ديوال(حصار) په ډول سره عمل کوي .
  - ونې د باد ماتونکو په ډول سره عمل کوي.
    - چې په خاص يا ځانګړې ډول سره د ژمي په مياشتو کې ګټورې وي.
  - . ونې د بدو نما لرونکو ساحو لپاره د ديوال په شکل کار کوي.
    - لکه د ښار په صنعتي ځايونو يا ساحو کې.
  - ونې په دې باندې قادرې دي چې صوتي يا د غږ ککړتيا کمه کړي .
    - د غالمغال اندازه د کاري ساحو سره نژدې ځايونو کې کموي
    - او د ساحو د اوسيدونکو د ژوندانه کيفيت ته قوت او لوړوالی بخښي.

# د ښاري ځنګلدارۍ او ښاري ونو فوايد يا ګټې کومې دي؟

- ونې د اوړي په ګرمو ورځو کې يخونکې تاثيرات لري .
  - د يوې غټې ونې لاندې د ساحې سورې کولی شي چې ۱۵ په نسبي ډول سره يخوالی نسبت د لمر د شعاع لاندې حرارت يا تودوخې د درجې په وړاندې کم ولري .
- يوه غټه پاڼې غورځونکې ونه د خپلو ونو پواسطه د ماورای بنفش(UV) شعاعو د وړانګو مانع کيدلی شي .



# د ښاري ځنګلدارۍ او ښاري ونو فوايد يا ګټې کومې دي؟

- وني ښايسته دي او ښکلا منځته راوړي. په زيات شمير سره وني د رنګارنګ ګلونو لرونکي دي، زړه راښکونکي ښاخونه او پاڼي، په زړه پورې پوستکی او په زړه پورې د منی د رنګ لرونکي دي .
  - هغه کورونه چې بالغي وني او ښايسته منظري ولري د ۱۰-۱۵ پوري نسبت هغه کورونو ته يي ارزښت زيات دی چې وني او منظري په کې شتون ونه لري .

# تاسې به د کوم یو لپاره مځکې پیسې ورکړئ؟





# د ښاري ځنګلدارۍ او ښاري ونو فوايد يا ګټې کومې دي؟

- ونې په انسانانو باندې په رواني ډول سره مثبت تاثيرات لري اګر چې د هغې اندازه کول يو مشکل او ستونزمن کار دی .
  - تحقيقاتو يا څېړنو دا ښودلې ده چې ښاري ځنګلات د دماغو(مغزو) د صحت لپاره ګټور دي..
  - ښاري ځنګلات د يوه سالم او روغ محيط يا چاپيريال په منځته راوړو کې مرسته او کومک کوي
  - هغوي توفانونه، د اوبو سطحي جريان او د خاورې تخريب ته کموالی ورکوي. ونې د حيواناتو يا څارويو د اړتيا يا ضرورت وړ اکسيجن توليدولی شي او ښاري ځنګلات غذاي مواد او پناه ځايونه د وحشي حيواناتو لپاره برابروي .

# د ښاري ځنګلاتو د مديريت(تنظيم) مختلفي جنبي کومي دي؟

- ښاري ځنګلات د مخلتفو افکارو په کار وړلو سره تر مديريت لاندې نيول کيږي .
- د ښاري ونو تنيظيم په اوبه لوړيدو سره، وحشي حيواناتو باندې، د کبانو په پناه ځآيونو، تفريحي يا ساعت تيرى په فعاليتونو، د چاپيريال په ښکلا يا ښايستوالى، ونو په عمومي مديريت او لرګينو محصولاتو باندې تاثير لري .
- د ښاري ځنګلاتو د مديريت پروګرام عامه تعليماتو ته ضرورت لري ترڅو چي د هغې پواسطه د ونو رول په محيط باندې هم توصيه کړل شي .

# د ښاري ځنګلاتو د مديريت(تنظيم) مختلفي جنبي کومي دي؟

- د ښاري ځنګل د مديريت پروګرام د بي شميره موخو يا اهدافو لرونکی دی .
  - يو له دې موخو يا هدفونو څخه شامل دی په، ونې د نوعي له نقطي نظره، جسامت، عمر او ارزښت له مخې څخه وي .
  - د موجوده يا شتونو لرونکو ونو حفظ او ساتنه مهم دي .
    - په مراقبت يا څارنه کي د حشراتو مديريت، آفاتو مديريت او ناروغيو مديريت شامل دي .
  - نو په دي بنا د مړو ونو له منځه وړل .
- ښاري ځنګلات هميشه د تغير په حال کي دي نو په دي بنا د مړو او تيتو شوو ونو له منځه وړل او د ساتنې مسايل، ضروري او اړين کنل کيږي

# د اجتماعي ځنګلدارۍ د پروګرام عمومي موخې یا هدفونه

- د ونو د پوښښ د اعظمي حد منځته راوړل او ساتنه.
- د ونو ساتل له یو سالم او صحي وضیعت سره د زراعتي مناسبو عملیاتو له لارې.
- په یو متعادل او مناسب حد کې د نوعو او همدارنګه په سنتي تنوع کې ساتنه او منځته راوړل.
- د ونو د منابعو یا زیرمو ساتنه او هغې ته ترقي ورکول.
- د سرک د غاړې د ونو تاسیست ساتنه او انتخاب یا ټاکنه، تردې پورې چې ګټې یې اعظمي شوې وې ولې خطرات یا ننګونې، ازار، خسارات یا زیانونه د ځمکې او حفاظتي مصارف یې لږ تر لږه کم شي.
- د ونې د مدیریت متمرکز کول دیوه تجربه لرونکی شخص تر رهنمایي او لار ښوونې لاندې.
- د ښارې موثرې او اقتصادي ځنګلدارۍ د انکشاف مدیریت.
- د جامعې یا ټولنې هڅونه په دې توګه چې د ښاري ځنګلدارۍ د پروګرامونو څخه په خپلو محلونو کې او همدارنګه د خصوصي خاوندانو تشویق او هڅول د مناسب مدیریت او شخصي مالکیت په هکله.
- د اسانتیاوو برابرول ددې لپاره چې د ښاري اوسیدونکو په منځ کې د ونو پورې مربوطه جګړې حل او فصل شي .

# د ښاري ځنګلاتو د مديريت(تنظيم) مختلفي جنبي کومي دي؟

- ښاروالی په غالب ډول سره د ونو پوري تړلي يا مربوط لوايح او حکمونه منځته راوړي ترڅو چي صحي موخو ته د لاس رسيدنې لپاره يو مناسب او قوي مديريت د اجتماعي ځنګل داری په برخه کي منځته راشي.
- د ونو احکام يا لوايح د مديريت د معياري فعاليتونو په برخه کي جواز برابروي.



# د ونو پورې تړلي دري نوعه لانيحې کومې دي؟

- د سرک د غاړې ونو احکام یا لوایح په اصل کې عبارت دي له ونئیز پوښښ څخه او د ونو له منځه وړلو د یوې عامې لارې په اوږدو کې .
- هغوي په غالب ډول سره د ونو سره په رابطه کې د خصوصي قوانینو لرونکي دي چې د عامه سفرونو خطرات یا ننګوني تر پاملرنې لاندې نیسي، دي .
- د ونو د کرنې ضروریات یا اړتیاوې لکه د ونو کرل د پارکنګ په ساحو کې په عمومي صورت سره مطرح شوي دي .

# د ونو پوري تړلي دري نوعه لانيحې کومي دي؟

- دونې حفاظتي يا ساتونکی قوانين شامل دي د محلي ونو په ساتنه او د ونو د مهمې تارخچې په ساتنه او حفاظت سره په دي احکامو يا لوايحو کي شامل دي.
  - له دې نه مخکې چي حفاظتي ونې پري يا هم بناخ بي پري شي معمولاً د جواز پيداکولو ته اړتيا ليدل کيږي.
- د منظرې(چکرځای) احکام يا لوايح په دي احکامو کي د ونو پوري د مربوطه يا تړلو قوانينو طرحه چي منظري يا د لمر رڼا ته ديوال جوړوي شامل دي .

# خلاصه یا لنډیز/مرور(بیاکتنه)

- د ښاري ځنګلدارئ پيژندګلو.
- د يوه ښاري ځنګله او ښاري ونو فوايد او ګټي تشريح کول
- د ښاري ځنګلاتو د مديريت د مختلفو جنبو توضيح او روښانه کول.

